# څنګه خپل ځان له GP سره ثبت او واکسین بوک کړو

## په ۱۲ ساده قدمونو کې


پښتو / PASHTO

## تاسو څنګه کولای شئ د کووېډ-۱۹ واکسین ترلاسه کړئ؟



**1.**

که تاسو د NHS شمېره لرئ، او له GP سره ثبت یاست، تاسو کولای شئ د خپلو واکسینو نېټه له مخکې څخه بوک کړئ.




**2.**

**خپله د NHS شمېره مو په یاد نه ده؟**
تاسو کولای شئ دا شمېره په خپله نسخه، د NHS له خوا په رالېږل شوو لیکونو یا د NHS په اپ کې ومومئ.




**3.**

تاسو همدارنګه کولای شئ دغه شمېره په NHS وېب پاڼه کې د خپل نوم، د زیږېدنې د نېټې او پوسټ کوډ په درج کولو سره ومومئ.

nhs.uk/nhs-services/online-services/find-nhs-number/


## څنګه کولای شو واکسین بوک کړو؟




**1.**

د NHS وېب پاڼې ته مراجعې سره، د مرستې ۱۱۹ شمېرې ته په زنګ وهلو سره یا له خپل GP سره د تماس له لارې.

nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/coronavirus-vaccination/book-coronavirus-vaccination/



**2.**

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې یوازې د واکسینو له دواړو دوزونو وروسته به تاسو حد اکثر خوندیتوب ترلاسه کړئ، نو خپل دواړه ملاقاتونه په یو ځل بوک کړئ.



**3.**

**که ستاسو د کووېډ-۱۹ پایله مثبت وي څه به کېږي؟**
په دې صورت کې، مهرباني وکړئ مخکې له دې چې خپل ملاقات بوک کړئ له هغه نېټې څخه چې تاسو خپله آزموینه کړې ده، د ٤ اونیو لپاره انتظار وباسئ.

# تاسو د NHS شمېره نه لرئ؟




## 1.

تاسو کولای شئ د خپلې کورنۍ د ډاکټر په مرسته د NHS شمېره ترلاسه کړئ- چې د عمومي ډاکټر (GP) په نامه هم یادېږي.

**څنګه کولا شئ تر ټولو نږدې GP ومومئ؟**

په NHS وېب پاڼه کې د لټون له وسیلې څخه په استفادې سره.

[nhs.uk/service-search/find-a-GP](nhs.uk/service-search/find-a-GP)



## 2.

کله مو چې پیدا کړ، له لګښت پرته له سرجرۍ GP سره د تلفوني تماس یا د هغوی وېب پاڼې ته په مراجعې سره خپل ځان ثبت کړئ.

[nhs.uk/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-surgery/](nhs.uk/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-surgery/)




## 3.

تاسو د ځان ثبتولو لپاره د آدرس یا کډوالۍ وضعیت، آی ډي یا د NHS شمېرې تثبیت ته اړتیا نلرئ. ستاسو معلومات پولیسو یا د کډوالۍ چارواکو ته نه راجع کېږي.




## 4.

**آیا تاسو لاهم له GP سره د ځان ثبتولو لپاره مرستې ته اړتیا لرئ؟**

په ساده توګه د نړۍ د ډاکټرانو (Doctors of the World) له وېب پاڼې څخه په خپله وسیله کې د GP د لاسرسي کارتونه چاپ یا ډونلوډ کړئ ترڅو دا څرګنده کړئ چې تاسو حق لرئ چې باید ثبت شئ.

[doctorsoftheworld.org.uk/gp-access-cards/](doctorsoftheworld.org.uk/gp-access-cards/)



## 5.

**ستاسو د نوملیکنې درخواست رد شوی؟**

همېشه په یاد ولرئ چې په انګلستان کې ټول ناروغان کولای شي د مرستې لپاره Doctors of the World یا NHS England ته زنګ ووهي.

**DOTW**
**0808 1647 686**

**NHS ENGLAND**
**0300 311 2233**



## 6.

کله چې تاسو له کوم GP سره ثبت شئ او د پوسټ له لارې خپله د NHS شمېره ترلاسه کړئ، تاسو کولای شئ خپل ملاقات تنظیم کړئ.

In association with

BritishRedCross